Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Justice
National Stability Society

نېټه: ۲ / ۱۲ / ۱۳۹۵

د نا متمرکز نظام د رامنځته کولو، د حکومتولۍ د کمزورتیا او د پاکستان د وروستیوو مانورونو په غبرګون د ملي ثبات ټولنې د مطبوعاتي کنفرانس اعلامیه

ملي ثبات یوه افغانستان شموله ټولنه ده ؛ چې تل یې د اسلامي او ملي ارزښتونو د دفاع او تحقق له پاره د افغان ملت له ارادې سره سم خپل غږ پورته کړی او دا ځل یې وغوښتل چې د مطبوعاتي کنفرانس له لارې له هېوادوالو او نړیوالې ټولنې سره د یو لړ حساسو ملي مسایلو په هکله خپل رسمي دریځ شریک کړي.

په هېواد کې د نامتمرکز نظام د رامنځته کولو په اړه د ځینو خود غرضه کورنیو او باندنیو استخباراتي کړیو وروستۍ هلې ځلې ، د عامه خدمتونو غیرمؤثریت ، د ښې حکومتولۍ تشه ، وړ او اهل کسانو ته د دندو نه سپارل ، د سرپرستانو له لوري د ځینو چارو سمبالېدل ، د ښه ګاونډیتوب د اصولو خلاف پر افغان خاوره د پاکستان وروستي نظامي بریدونه ، د پخوا په څېر په دوامداره توګه له نړیوالو ترهګرو څخه ملاتړ او د یاد هېواد وروستیو مغرضانه سیاسي او نظامي مانورونه هغه مسایل دي ، چې ملي ثبات ټولنې یې په غبرګون کې خپل رسمي دریځ د ۱۳۹۵ لمریز کال د کب د ۲ یمې نېټې په مطبوعاتي کنفرانس کې اعلان کړ او دا دی د یاد کنفرانس پرېکړې ، غوښتنې او سپارښتنې له تاسو سره هم شریکوي.

1. د ستر افغان ملت ملي اراده ، چې په اساسي قانون کې تسجیل ده او همدارنګه د افغانستان جغرافیوي ، کلتوري ، ډیموګرافیکي ، سیاسي ، اجتماعي او نورې عیني ارتیاوې یوازې او یوازې په قوي متمرکز ریاستي نظام کې تمثیل او تعمیل کېدای شي ، نه دا چې د یو بهرني ډیپلومات او استخباراتي شخص هوایي نظر د ملت برخلیک ټاکونکی وګڼل شي.
2. په یو شمېر مشخصو فامیلونو او کړیو پورې تړلي افراد ، چې وخت نا وخت د خپلو فامیلي او ګوندي ګټو د تحفظ او بقاء په موخه په نامتمرکز (پارلماني یا فدرالي) نظام د اوسني مختلط مرکزي نظام د بدلون سوړې نعرې وهي ، په حقیقت کې د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د دښمن ژرندې ته د اوبو اچولو او په ډېرې سپینې سترګې سره د ملت د ارادې په وړاندې د تقابل مانا لري ؛
3. په اوسنیو شرایطو کې د افغانستان له پاره ؛ چې له بده مرغه د لرې او نږدې استخباراتي کړیو او یو شمېر کورنیو ډلو ټپلو د ګټو د تحفظ او نیابتي جګړو په ډګر بدل شوی ، له قوي مرکزي ریاستي نظام څخه پرته د بل هر ډول نظام غوښتل او منل ؛ د افغانانو د اوږدمهاله بې ثباتۍ او تباهۍ په مانا دی.
4. د ۱۹۹۰یمو کلونو د نامتمرکز نظام ترخې تجربې او انساني جنایتونه هغه واقعیتونه دي ، چې د تل له پاره په افغانستان کې د نامتمرکز نظام د راوستلو او راوستونکو پر مخ د رد درنه څپېړه ده.

5. په افغانستان کې ټول قومونه د واحد وجود غړي دي. هغه ډلې ټپلې چې په بېلابېلو نومونو او پلانونو سره د دې متفقو او متحدو قومونو د جداکولو او په ایالتونو یا سیمو د هغو د لا وېشلو هڅې کوي ، په حقیقت کې د افغانستان د دښمنانو او پردیو آجنډاوې پرمخ وړي او د خپل ولس استازیتوب نشي کولی ؛

6. له حکومت څخه جدي غوښتنه کوو ، چې د نظام نیمګړتیاوې بشپړې کړي ، د سترې محکمې د عالي شورا د غړیو او د مشرانو جرګې د انتصابي سناتورانو په شمول ؛ د قضایه او مقننه قوې نیمګړي چوکاټونه بشپړ کړي او د سرپرستو وزیرانو ، والیانو ، لویو رئیسانو ، ښاروالانو او مرستیال والیانو سرپرستی ته د پای ټکي کېږدي ؛

7. په اداراتو کې د ټولو لوړ پوړو او ټیټ پوړو ملکي او نظامي کارکوونکو ګمارنه باید د سمتي ، ژبنیو ، ګوندي او مذهبي ملحوظاتو پرځای د لیاقت ، پوهې ، مسلکي‌توب او ملي ژمنتیا پر بنسټ ترسره شي او مسؤل چارواکي باید د ملت د واکدارانو په څېر نه ؛ بلکې د ملت د خادمینو په توګه مؤثر عامه خدمتونه وړاندې او د ښې حکومتولۍ له پاره هلې ځلې وکړي.

8. حکومت باید د ژمې له پاته رخصتیو او اقلیمي شرایطو څخه اعظمي استفاده وکړي او ټولې هغه چارې بشپړې کړي ، چې په راتلونکې پسرلي کې ورته جدي اړتیا ده. په هېواد کې د روانې پردۍ جګړې د مخنیوي او ختمېدو او همدارنګه د تلپاته سولې د ټینګښت له پاره په نورو بین الافغاني میکانیزمونو هم فکر وکړي.

9. په پاکستان کې وروستني ترهګریز استخباراتي بریدونه چې مظلوم عام پاکستانیان پکښې زیانمن شول ، د غندلو وړ عملونه وو او پاکستان غواړي په دې کار سره د پاکستان د ترهګریزې څېړې په اړه د نړیوالو منفي ذهنیت بدل کاندي او ځان د ترهګرۍ قرباني وښیي ، خو نړیواله ټولنه باید د پاکستان په دغه دوه مخي سیاست پوهه وي.

10. پاکستان په دې موخه دروازې او لارې تړي ، ترڅو د ډیورنډ د تپل شوې او فرضي کرښې په اوږدو کې پروت واحد افغان ملت ؛ چې د نوک او وړۍ په څېر دی او د واحد کلتور او تاریخ لرونکی دی ، سره بېل کړي ، خو د پاکستان په دې شومو کړنو سره نه یوازې دا چې واحد افغان ملت بېلېږي نه ، بلکې د پاکستان د مغرضانه سیاستونو پر وړاندې د کرکې او نفرت فکر نور هم پیاوړی کوي.

11. افغان حکومت باید له پاکستان سره د دیپلوماتیکو لارو چارو او مذاکراتو له لارې روان کړکیچن وضعیت ته د پای ټکي کېږدي او افغان حکومت دې د نړیوالې ټولنې او په ځانګړې ډول د ملګرو ملتونو د امنیت شورا څخه د پاکستان له لورې زمور په خاوره بریدونو د څېړلو غوښتنه وکړي ؛

12. د تروریزم او ترهګرۍ له اصلي ځالو او ملاتړو سره باید د هغو په اصلي ټاټوبو او مراکزو کې جدي مبارزه وشي او په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو ډېرول ؛ روانه تپل شوي جګړه نوره هم پېچلې کوي او بهرنیان دې په افغانستان کې د خپلو ځواکونو د ډېرولو پرځای د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو په هر اړخیز ملاتړ او سمبالونه پانګونه وکړي.

13. په افغانستان کې روانه پردۍ جګړه په هیڅ صورت د زغملو وړ نه ده. حکومت ، طالبان او نور افغان مخالفین باید د جګړې د مخنیوي او سولې ته د رسېدو له‌پاره د بین الافغاني میکانیزمونو او خبرو اترو له لارې بل شوي اور مړ کړي او په ګډه دې دا ګران هېواد اباد او خپل ملت ته د سوکالۍ شیبې ور په برخه کړي.

په درنښت

دملي ثبات ټولنې مشرتابه

National Stability Society
Phone No: 0202512253, 0784994300, Postbox 4000
http://millisubat.af/ https://twitter.com/MilliSubat
Email: info.millisubat@gmail.com , https://www.facebook.com/MilliSubat/
House Number NO 630, Street, 10th Kart-e 3 Kabul Afghanistan